# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
|---|---|



محمد هارون خپل شعشعي


۰۸ اکتبر ۲۰۱۱

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۱۴

**۲۹- توحيد او د هغه ډولونه ( عام، خاص او خاص الخاص توحيد) :**

توحيد، په لغت کي يووالي، پيوستون، ګډولو، يوځای کولو، د لوی ښتن يووالي، يګانګی او يوازيتوب ته وايي[۱] . ځيني توحيد هغه پوهي ته وايي، چي د حق تعالی د يووالي او د هغه د ذات او صفتو په باره کي څېړنه او پلټه کيږي (کوي) . ځيني توحيد د تجريد او تفريد وادي ګڼي- هغه مقام چي هورې شمېر او عدد له منځه ځي؛ او بې يوه ذاته نور هيڅ شی نه پاتيږي[۲] .

د قرآن مجيد د اخلاص د سورې په څلورو آيتو( ۱۱۲ : ۱- ۴ ) کي ، د الله سبحانه وتعالی د وحدانيت د مسألې تولي خواوي، په ډېري ژورتيا سره بيان سوي دي . توحيد، د اسلام تر ټولو لوړ او اساسي اصل ګڼل کيږي . د اسلام د سپېڅلي دين ټولو پيغمبرانو له حضرت آدم عليه السلام څخه تر وروستي پيغمبر - حضرت محمد مصطفی (ص) پوري ټولو بشري ټولنو ته د الله تعالی د يووالي او وحدانيت ستر او ارزښتناک پيغام رسولئ دئ . د کايناتو د يوازني او تلپاتي خالق دا پيغام تر اوسه پوري په پرله پسي توګه، د لوی ښتن د اولياوو، عارفانو او عالِمانو له خوا، انسانانو ته رسول کيږي .

په اسلامي تصوف او عرفان کي زياتره « توحيد » او « وحدت » ته، په يوه سترګه نه کتل کيږي . « توحيد»، چي په مقابل لوري کي يې « شِرْک » دئ، تر زياتي ګچي، د د ين او خدای پېژندني د يوې مُهمي اصطلاح په بڼه کاريږي؛ په داسي حال کي، چي د « وحدت » استعمال زياتره د يوې

فلسفي اصطلاح په توګه، د متصوفانو او عارفانو په ډېکتورينو کي تر سترګو کيږي، چي په مخالف لوري کي يي « کثرت » دئ . په اسلامي تصوف او عرفان کي، د « توحيد» او « وحدت » دواړو نخښي څرګندي دي . وتلي عرفاني لاربنود - شېخ عزيزالدين نسفي ( ۶۳۰ – ۷۰۰ هـ ق ) په خپل ارزښتناک عرفاني اثر « کشف الحقايق » کي د شريعت، طريقت اوحقيقت له نظره ، د توحيد مانا داسي بيان کړي ده :

« توحيد په لغت کي يوکولو ته وايي . دا ټکی په شريعت کي يو ويلو، په طريقت کي يو ګڼلو؛ او په حقيقت کي يو پېژندلو ته وايي . په شريعت کي، موحد هغه څوک دئ، چي ووايي : « خدای يو دئ . » په طريقت کي، موحد هغه څوک دئ، چي خدای يو و بولي؛ او په حقيقت کي، موحد هغه څوک دئ، چي خدای يو وګوري . په شريعت کي د مسلمان، مؤمن او موحد مانا يوه ده . همدغه راز د منافق، کاپير ( کافر ) او مُشرِک درو بېلو ټکو ته هم په يوه مانا او مفهوم کتل کيږي؛ خو د تحقيق د ښبتتانو په اند، دا هره اصطلاح ځانته بېله او جلا مانا لري[۳]. »

ډاکتر محمد محسن خان، د امام بخاري د انګرېزي ترجمي په لغتنامه کي، د توحيد د دغو ډولو يادونه کړي ده :

الف ) د لوی ښښتن توحيد يا ربوبيه توحيد : دا توحيد په دي مانا دئ، چي د ټولو کايناتو او په هغو کي د ګردو نغښتو موجوداتو ښښتن، خالق او ساتونکی، يوازي يوخدای دئ .

ب ) د عبادت توحيد يا الوهيه توحيد : په دي مانا، چي بې يوه لويه خدايه بايد د هيچا عبادت و نسي؛ د مثال په توګه لمونځ، روژه، قرباني، زکات او داسي نور بايد يوازي د خدای تعالی د عباد ت دپاره يي او بس .

ج ) د خدای تعالی د نومو او صفتو توحيد : د رب جليل د نومو او صفتو توحيد په دي مانا دئ :

۱- موږ بايد الله تعالی په داسي نومو او صفتو ياد نه کړو، چي ده په خپله يا د ده رسول نه يي ياد کړئ .

۲- هيڅوک بايد د حق تعالی په نومو او صفتو ياد نسي؛ د مثال په ډول الکريم او داسي نور .

۳- موږ بايد په سپېڅلي قرآن يا د رسول الله ( ص) له خوا د پروردګار د ياد سوو صفتو په مانا کي، هيڅ راز تغيير اوبدلون رانه وړو؛ او نه هم بايد هغه له هيڅ مخلوق سره ورته وګڼو . د توحيد دادرې اړخونه په دې جومله ( جمله) کي ډېر ښه بيان سوي دي : « بې الله تعالی، هيڅوک د عبادت کولو وړ نه دئ . »

د ) د خدای تعالی د پيغمبر د متابعت توحيد يا د اتباع توحيد : دا توحيد په دي جوملې کي په ښه ډول مانا سوئ دئ : « شهادت ورکوم، چي حضرت محمد ( ص ) د خدای رسول دئ . » په دې ډول، د خدای تر کتاب ( قرآن ) وروسته او لــــه رسول ( ع) پرته هيڅوک د متابعت او پيروی وړ نه دئ [۴].

علي محمد مخلص، په « حالنامه » کي، د روحاني کوښښو او رياضتو تر بشپړولو وروسته، د الله سبحانه و تعالی له خوا پر خپل عرفاني لاربنود ( بايزيد روښان ) باندي د توحيد د هغه نعمت يادونه کيي، چي مخامخ يا بې واسطي ورته عطا سوئ ؤ . پير روښان ( ۹۳۱- ۹۸۰ هـ ق ) د توحيد

د پوهې بې سارى ارزښت، د رسول اکرم ( ص ) په دې مبارک حديث کې بيان کړئ دئ : « التوحيد ثمن الجنة و الحمد لله وفأ شكر كل نعمة » ياني د يووالي پوهه د جنت بيه ده؛ او د الحمدلله ويل د ټولو نعمتود شکر وفا ده٥.

زموږ موحد عارف ، علي محمد مخلص، په خپل عرفاني ديوان کې، نورټول علوم زيني؛ خو توحيد د علومو بام ګڼي . دده په اند توحيد درې ډوله دئ :

لومړى : د عامو موحدينو توحيد.

دوهم : د خاصو يا ځانګړو موحدينو توحيد .

دريم : د خاص الخاصو يا په ځانګړو کې د ځانګړو موحدينو توحيد.

دده په عقيده، د عامو خلکو توحيد، د پټو سترګو او تقليد توحيد دئ . دا ډله خلک، لکه څنګه چې له نامه څخه يې مالوميږي ، د ړندوپه شان د نورو پر پلو روان دي؛ په ټينګه عبادت کيې؛ خو د خپل طاعت په عرفاني ارزښت هيڅ نه پوهيږي . مخلص، د قرآن کريم د اعراف د سورې د يوسلونه اويايم آيت ( ٧ : ١٧٩ ) د يوې برخې « . . . اولئک کاالانعام بل هم اضل اولئک هم الغفلون » په استناد ددې ډلې په اړه داسې وايي :

علم يقين که چې خداى ... رسـول ... دئ٦
د بزرګانو په تقليد يې ايښـئ ګـام دئ
دوى ړانده دي عصاکشه کـاملان شـوه
هر سړى بې عِلم و فکره کاالانعام دئ

عارفان، د تقليدپرېښوول اوډګرويرني يا تحقيق غوره کول، په عرفاني سير او سلوک کې له هغو ضروري چارو څخه بولي، چې د زړه يا باطن صفا ځني حاصليږي؛ او الهي انوارو ته د ځلېدو لار پرانيزي . تحقيقي ايمان، په زړه کې د شک او ګومان تيارې له منځه وړي؛ او پر ځاى يې د باور لمر غوړيږي . له همدې امله، مخلص له تقليدي ايمان څخه پر تحقيقي ايمان، ټينګار کيې . دده عارفانه بيان دئ، چې وايي :

له تقليده و تحقيق وته روان شــه !
له ګمانه د ايقان په لـوري کـوږه !
د تقليد ايمان له شکه خـالي نه دئ
ته له شکه د عيان په لوري کـوږه !

دخاصو يا ځانګړو موحدينو ډله ،دتوحيد هغه لارويان دي،چې د عامو خلګو پر خلاف، په خپلو کړو وړو کې، پر استدلال او منطق تکيه کيې . هغوى استدلال، عقلي او فکري مناظره، د حقيقتو د کشف او بيانولو تر ټولو غوره او ارزښتناکه لار ګڼي . د اسلامي عارفانو په نظر منطق، علمي او عقلاني استدلال له پوهې او تعقل څخه را زيږي؛ خو له دې واقعيت سره سره هم د توحيد د لارې پلټونکي،يوازې د خپلې انساني پوهې، منطق اواستدلال په مرسته، ددې ناپايه، پټو او پېچلوکايناتو ديپژندلو توان نه لري؛ ځکه نو مخلص هم، پټو حقيقتو ته د رسېدو په لار کې، ددې ډلې د بې وسيو او سرګردانيو په اړه داسې وايي :

عوام خلک تقليدي، خاص دليلي شـــه

د دلیل ځښتن غایب له ذوالانـــام دئ
ددلیل د اهل پښي چوبین یادشــوي
په چوبینو پښو رفتن په ډېر ناکـام دئ

ځیني عام خلک، د توحید او عرفان په لار کي، د خاصو موحدینو، استدلال او علمي صلاحیتو ته، په ډېره درنه سترګه ګوري؛ او د هغو د پیروی هڅه کيي . مخلص، دې ټکي ته په اشارې سره داسي وايي :

عام عالَم ددي خاصانو توحید زده کـه
بې دلیله یقین سپک هر ګوره خـام دئ

دریمه ډله، دخاص الخاصو موحدینو ډله ده، چي د توحید او عرفان تر ټولو لوړ مقام ته رسېدلي يي؛ او دعرفاني طریقت په ګردو اسرارو او باریکیو خبر يي . دا لوړه عرفاني مرتبه، په حقیقت کي د کامل انسان، کامل پیر یا رسېدلي ولي مرتبه ده، چي زړه يي ټل د الهي انوارو د تجلا مرکز؛ او د پټو اسرارو دکشف او الهام سرچینه ده . د مخلص په باور، تو حید د ټولو عُلومو بام دئ . هغه څوک چي د توحید په پوهه ونازول سي، په حقیقت کي د پوهي معراج ته رسېدلئ دئ؛ خو د خاص الخاص توحید ځښتن هغه څوک دئ، چي د روښاني سیر او سلوک، شپږ مقامونه يي په بري سره تېر کړي يي . د ده کلام دئ، چي وايي :

واړه عِلم د توحید دپاره شــوئ
دا نورعِلم پيټکی ، توحید پاس بام دئ
شریعت، طریقت بـــــل حقیقـت ګوره !
معرفت، قربت، وصلت شپږم مقام دئ
چي دا شپږ مقامه طی نه کړي باور کړه !
تر توحیده به ورنه شي دا اعلام دئ

بل ځای، د خاصو موحدينو په وړاندي، ددې ډلي ستر عرفاني مقام داسي بیانيي :

نن خاصان ددي اخص توحید وغواړي
خاص الخاص له شکه خلاص پېشوا امــام دئ

مخلص، د ریښتني توحید مقام ته رسېدل، یوازي د سالکانو د هستی ډوله نېستی په فنا کولو سره ممکن بولي :

د سايي په دود به وصل شي له نمره
که د لا الله په تېغ وجود فـــنأ کړې !
د توحید آفتاب به ووینې مخلـصه !
د ګمان ونه که غوڅه سر ته پا کړې !

**دنور مالومات دپاره وګورئ : د « عالَم او د هغه ډولونه » تر سر لیک لاندي د** وحدت او کثرت عالَم، وحدت الوجود او وحدت الشهود، نبي او ولي، ولي او ولایت، کامل شیخ، کامل پیر، کامل او ازاد، ابرار، اوتاد، سرهنګان یا اخیار ، نقیبان، قطب، قطب الاقطاب، غوث یا صاحب الزمان .

**لمنلیکونه**

١ عمید ١: ٧۴٩ ؛ Wehr 1055.

٢ حلبی ۵۶ .

٣ نسفی، کشف الحقایق ١۵٨.

4 Dr Muhammad Musin Khan, " Glossary," Sahih Bukhari 9: IV.

۵ مخلص، حالنامهء بایزید روښان ۵٨ .

۶ په دي میسره کي، د تشو ځایو ټکي نه لوستل کیږي . [ ښایي دا ټکي داسي ولوستل سي : عام یقین که چي خدای یو رسول برحق دئ . یا عام یقین که چي خدای یو رسول یې حق دئ ( الله ښه پوهېږي ) . د یوه علمي او منلي اصل په توګه مو د مخلص د دیوان د خطي نسخي د اصالت مسألي ته جدي پاملرنه کړې ده .

پاته لري